پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۲/۲۹

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۴۳ مه پرله پسې برخه

## کابل
## او د افغانستان سویل – ختیځ

ایډیټ:
ډاکټر لودویگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

## مالیات :

**په ختیځ ویش کې**: بېلابېل مالیات وضع کېږي. په ختیځه برخه کې پر اساسي ځمکو «یعني للمي» ځمکو مالیات په لاندې ډول وضع کېږي: د ځمکې حاصل یا په لسو برابرو برخو ویشل کېږي چې یوه برخه ئې د امیر ده او یا د باراني ځمکو حاصل د ۱۲۰ تبریزي خرواړو په نرخ ټاکل کېږي؛ تبریزي خروار د کابل له ۲/۱ – ۶۲ سیر سره برابر دی چې ۷۵۰ «هندي» مونده کېږي.
د خروار په ختیځ «کابل» ویش کې د خړوبې ځمکې مالیات دېرش زره روپۍ کېږي. په خړوبې ځمکې باندې ثابته مالیه په دغهٔ نرخ لګول کېږي: هغه ځمکه چې د سیند په اوبو خړوبېږي هر جریب څلور روپۍ، هغه ځمکه چې د چینو په اوبو خړوبېږي هر جریب ۳ روپۍ او که د کاریز په اوبو خړوبه سي نو د هر جریب پر سر ۲ روپۍ مالیه راځي.
د دې ترڅنګ نور کوچنی مالیاتي اقلام هم سته. د بېلګې په توګه: «سر چربي بي بي» [1]-- د ملکې لپاره مالیه د جاګیر په توګه :یو نیم خروار غوړي.

**دروازګي**: [2]: د دروازې مالیات – اندازه ئې ۸۰۰ روپۍ ده

**سرانه مالیات**: په کال کې تقریباً ۳۰۰۰ روپۍ

**د قلبې پر سرمالیه** – پخوا به د للمي ځمکو پر سر وضع کیدله او نرخ به ئې د هرې قلبې پر سر ۶ آنې وو چې ټولټال ۱۰۰۰ «کابلی» روپۍ مالیات کیدل.

[1]-Sar -i- Charb -i -Bibi ( "fat for the Queen's hair ")
[2]-Darwazagai

**سر جمع گي**: [3]: د ۳ پسونو پر سر یوه روپی «د هر پسهٔ پر سر ۴ آني» او د څلورو وزو پر سر یوه روپی:
د سرجمع گي د مالیاتو ټولټال په کال کې: نېـږدې ۲۰۰۰ روپی.

**لویدیځه برخه**: په هغو کلونو کې چې باران پریمانه وي د للمي ځمکو پر سر مالیات د ټول حاصل یو پر لسمه ده چې تقریباً ۶۰ تبریزي خرواره ورځخه جوړېـږي. د خړوبي ځمکي مالیات ۵۰ کابلي تومانه «۱۰۰۰ روپی» دي. (گریسباخ)

**خار زار**: ۳۸ – ۳۴، ۶ – ۶۸ «ج»: لوړوالی ۱۱۰۰ فیته: دا هزاره بهسودو په سیمي کې د حاجي گک د سویل ختیځ په ۱/۲- ۲ مایلی کې او د عراق د کوتل له سویل څخه تقریباً ۷ مایله لیرې یو کلی دی. دا کلی د کابل – مزار شریف تر منځ د عمومي سړک اتم منزل جوړوي. دې کلي کې د «دولت پای بهسودیانو، د میر طهماسب» [4] د څانگې ۱۰۰ کورونه دي. د کابل سړک همدلته په دوه وو برخو ویشل کـېـږي، بنی لاس ته څانگه ئـي په یوهٔ تگاو کې د عراق تر کوتله ځي او کیڼ لاس ته لاره ئـي چې عمومي سړک دی پورته په یوې تنگي دري تر حاجي گک پورې ورځغلي. له کلي لړ لار پورته، د عراق د کوتل پر لور، تگاو له ۱۰۰ تر ۱۵۰ یاردو پورې دی چې کرهنه په کې نـهٔ ده سوې او سرتـیـري کیدای سي دلته کمپ ووهي؛ واښـهٔ ئـي پریمانه دي خو سون توکي چې یوازې له بوټو څخه دي ډېـر لږ دي؛ اوبـهٔ ئـي له کاریز څخه دي. دا دره په دوبي کې په کوچیانو ډکه وي او دې درې ته د خپلو رمو د پیولو لپاره راځي. (آی.بي. سي)

**خار زار**: ۲ – ۳۵، ۱۴ – ۶۸ «الف» دا په هندوکش کې یو کوتل دی چې د غوربند له درې څخه تر سرخاب پورې لاره وربانديې تـېـرېـږي او د «کوهٔ جولانگاه» او «کوهٔ دِهِ ورسندان» [5] تر منځ واقع دی. دې کوتل ته رسیدل له سویل لوري کیږي چې یا د «سنگان داو درې» او «کوتل» [6] او یا د «بوتیان [7] درې » له لارې کـېـږي؛ دواړه لارې د بار وړنکو څارویو د تگ لپاره عملي دي. لاره په کوتل کې یو ځای په دوه وو برخو ویشل کـېـږي. ښي لاس ته لاره شمال لور ته د «نر کوه» او «پجمان» [8] درو له لارې برفک ته ځي؛ او بله ئـي «گردنی» [9] ته او «پُر کف درې» [10] ته تر «دو آبِ میخ زري» [11] پورې ځي. اخیر الذکره لاره سخته لاره ده او له دې چې د تگ لپاره عملي نـهٔ ده نو د انصراف سوې لارې په توگه دې په پام کې ونیول سي. (پیکاک، له بومي معلوماتو څخه.) اوسنی نقشي په دې نوم یو کلی د غوربند د سیند د یوې څانگي پر غاړې، د سیا گرد د سویل په نېـږدې لس مایلی کې په ۵۲ – ۳۴، ۵۲ – ۶۸ «ن» کې ښیي. (لودویگ آدمک)

**خارزاري**: (وگورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه) دا د دایزنگیانو یو کلی دی چې د کابل – هزاره جاتو – دولت یار د سړک په اوږدو کې واقع دی.

* **خرزون**: [12]: ۵۱ – ۳۳، ۳۶ – ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د «بیکاري» [13] د شمال لویدیځ په نېـږدې ۲ مایلی کې د «آریوب ستر توی» [14] پر غاړه یو کلی دی.

* **خاص کونړ**: ۳۸ – ۳۴، ۵۲ – ۷۰: خاص کونړ د ننگرهار د ولایت یوه ولسوالي ده. دا ولسوالي ۳۳۰ کیلومتر مربع مساحت لري او د وگړو شمـېـر ئـي د ۵۱۰۶ تر ۶۵۲۰ تنو پورې چې بزگري پرگني دي اټکل سوی دی. دا ولسوالي له لویدیځ لوري له څوکی او نورگل، له سویل لوري له گوشته خواجه زمر، له شمال لوري له «سرکاني» [15] او له ختیځ لوري له پاکستان سره کربنه لري. خاص کونړ نېـږدې ۲۱ کلي لري چې ۱۲ کلي ئـي له ۵۰۰ تنو ډېـر استوگن وگړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شم کار «شمکه» | Shamkar (Shamka) | حکیم آباد | ډک کلی | Dak Kalai |

[3]-Sar Ramagi
[4]-Daulat Pai Besuds, of Mir Tahmasb subdivision
[5]-Koh -i- Jaolangah and the Koh Deh -i- Warsandan
[6]-Sangandao Dara and Kotal
[7]-Botian Dara
[8]-Narkoh and Pajman Daras
[9] -Girdaneh
[10]-Purkaf Dara
[11]-Doab -i- Mekhzari
[12]-KHARZUN
[13]-Bikarai
[14]-Aryobster Toy
[15]-Sirkanai


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Tonar (Shanal) | تونر «شانل» | اراضي سفلی | | Arazi -i -Ulya | اراضي علیا | آخوند زادگان | |
| Karmota | کرموټه | خاص کونړ | | کلالانو بانډي | | Banday | بانډي |
| Juba | جبه | Kawil | کاول | Chand Rawi (Chand Rawul) | | چاند راوي «چاند راول» | |
| Daghai | داغي | Mangwal | منگوال | Chanchan | چن چان | Sana Khel | سنا خيل |
| Bailam | بې لام | بانډۀ حکيم آباد | | Lutan | لوټان | Chamyari | چمياري |
| | | | | | | Tai | تای |

**خاتي:** يا: **بابالي:** [16]: دا هزاره گانو يوه قبـيـله ده؛ ويل کـېـږي چې د خاتي مشران يا نيکونه له «ختن» [17] څخه راغلي دي، او اکثريت ئـې «بابالي» دي؛ دا قبـيـله په همدغو دواړو نومونو پـېـژندل کـېـږي. دا هم ناشوني نـهٔ ده چې کيدای سي بابالي قبـيـله په اصل کې تاجيک وي چې په مخونو کې ئـې د مغولي ډول مخونو يو جزئـي ترکيب په څرگنده ښکاري.

د خاتي قبـيـله کندهار ته نـبـږدې د «در افشان» [18] د درې په بلافاصله شمال کې ځانته سيمه لري چې پخوا د در افشان دره د دوی وه. (سنت جان)

وگورئ: باميان او همدا شان وگورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه

* **خټک:** ۲ – ۳۲، ۴۸ – ۶۸ «ن» ؛ دا «وور» [19] ته پر لارې د «مامي» [20] د لويديځ په نـبـږدې ۳ مايلۍ کې يو کلی دی.

* **خاتاخيل:** [21]: دا د غزني په ولايت کې د «ماخي» [22] د خوړ په اوږدو کې له لويديځ لوري «پانه» [23] ته د تللي سړک پر غاړه يو کلی دی.

**خاتي خيل:** ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د خوگيانيو په علاقه دارۍ کې د «حيدرخيلو» [24] د شمال ختيځ په تقريباً ۴ مايلۍ کې يو کلی دی. استوگن وگړي: د «خربون» [25] د څانگې خوگياني. (جنکينز)

**خات خان:** [26]: ـ ۳۳، ـ ۶۹: دا د «هاريوب» د سيند د ښۍ غاړې په اوږدو کې د علي خيلو د سويل په ۲/۱ – ۱ مايلۍ کې يو کلی دی. دا کلی يوازې ۱۲ کورونه لري او لږ کرهڼه هم په کې سوې ده. (آي. بي. سي)

**خاواک:** [27]: ۴۲ – ۳۵، ۳۱ – ۶۹ «الف»: لوړوالی: ۱۱۶۵۰ فيټه: دا په هندوکش کې يو کوتل دی چې د کابل – خان آباد لاره ورباندې تـېـرېـږي؛ دا کوتل له کابله ۱۱۵ مايله ليرې دی. د کوتل له پاسه او د سړک په اوږدو کې د خاصه دارانو ټولي په ټاکلو فواصلو کې ځای پر ځای دي چې لاره له واورو پاکه کړي او له همدې کبله ده چې دا لاره تل په عادي کلونو کې د تـېـريدلو وړ لاره ده. د ۱۹۰۵ز کال د فبرورۍ په مياشت کې کله چې د «دن مأموريت» [28] په کابل کې وو د اوښانو يو لوی کاروان کابل ته راورسيد، دغه کاروان له همدې کوتل څخه د فبرورۍ د مياشتې په لومړۍ اونۍ کې تـېـر سوی وو، دا مهال په کابل کې سړښت د فارنتهايت ۵۳ درجې وه چې ورسره درنده واوره وريدله. ويل سوي (په ۱۹۰۵ز کال کې) امير فرمان ورکړ چې د اضافي احتياط لپاره دې د کوتل په ځينو ځايونو کې د لارې پر سر آهن چادري بامونه جوړ سي. (آی. بي. سي)

---

16-KHATAI Or BABALI
17-Khotan
18-Darafshan valley
19-Wur
20-Mamai
21 -KHATA KHEL
22 -Makhi stream
23 -Pana
24-Khidar Khel
25 - Khugianis of the Kharbun section
26- Khat Khan : په انگليسي متن کې ددې نوم مخ ته په عربي الفبا «خت خيل» ليکلي چې له انگليسي متن سره سمون نـهٔ لري. - ژ
27- Khawak : په انگليسي متن کې ددې نوم مخ ته په عربي الفبا «خواک» ليکلي دي چې تيروتنه ده. - ژ
28-Dane Mission



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**خواک:** [[29]]: ۳۸ – ۳۵، ۵۴ – ۶۹ : دا د خواک د کوتل په ختیځه لمن کې د «چپچي» او «سیپي» [[30]] د درو د یوځای کیدنې په ټکي کې یو کلی او یوه زړه کلا ده. دلته یو ګارنیزیون دی چې د سپارهٔ ځواک له یوهٔ غنډ، د توپچي ځواک له یوې بطریې او د پلي ځواک له دوه وو کنډکونو او ۳۰۰ خاصه دارانو څخه جوړ سوی دی؛ یو شمېـر خاصه داران د کوتل د سړک په اوږدو کې په یو شمـېـر جونګړو کې ځای پر ځای دي. (آی.بي. سي)

**خوال:** آب ِ خوال: وګورئ: روزګاني

**خوانچ:** [[31]]: دا په خوست کې په هغې غرنی لړۍ کې یو کوتل دی چې دوه شمالي او سویلي درې چې دا ولسوالي ئـې جوړه کړې ده، له یو بله جلا کوي. (آی.بي. سي)

**خواص:** دا هغه سیند دی چې په «کوهٔ بیرن» [[32]] کې سر راپورته کوي چې له شمال لوري مخ پر هلمند بهـېږي. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

**خاوات:** [[33]]: ۴ – ۳۴، ۰ – ۶۸ «ن»: دا د بهسودو د سیمې په سویل کې یوه ولسوالي ده. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه) همدا شان یو کلی په ۴ – ۳۴، ۳۳ – ۶۸ «ج» کې هم موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**خاوات:** آب ِ خاوات: ۵ – ۳۴، ۴۵ – ۶۸ «الف»: دا په بهسودو کې یو سیند دی. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

* **خزان:** **خازان**: [[34]]: ۵۹: ۳۲، ۳۴ – ۶۸ «ن»: ۵۹ – ۳۲، ۳۴ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د «یحیی خیلو» [[35]] په شمال لویدیځ کې «ملخ» [[36]] ته نـېـږدې یو کلی دی.

**خزان ِ چینه :** [[37]]: ۱۳ – ۳۲، ۳۵ – ۶۸ «ن» :دا د سویل پر لور «وور» [[38]] ته پر لارې د «کمکی وازې خوا» [[39]] په سیمې کې یو کلی دی.

**خزر:** دا د محمد خواجه هزاره ګانو یوه څانګه ده. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

* **خدران:** [[40]]: ۴۹ – ۳۳، ۱۸ – ۶۸ «ن»: دا د «جغتوی وردک» په لویدیځ کې د غزني د شمال په نـېـږدې ۱۵ مایلۍ کې یو کلی دی.

**خنج:** وګورئ: خنج

* **خنکي:** [[41]]: ۴ – ۳۲، ۴۸ – ۶۸ «ن»: دا د غزني د ولایت په سویل کې د «وور» د سویل ختیځ په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې یو کلی دی.

**خیراني:** [[42]]: ۴۵ – ۳۳، ۴۲ – ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د ځمکنیو د سویل لویدیځ په شاوخوا ۸ مایلۍ کې یو کلی دی.

**خیري تیسنګ :** [[43]]: ۰ - ۳۴، ۴۲ – ۶۸ : دا په وردک کې د لوګر د سیند د کینې غاړې په اوږدو کې د شیخ آباد په مقابل لور کې یو کلی دی ؛ شیخ آباد په کې کلي کې ورګډ او محاسبه سوی دی. استوګن وګړي: وردک. (آی. بي. سي)

---

29- Khawak : په انګلیسي متن کې ددې نوم مخ ته په عربي الفبا «خواک» لیکلی دي چې تیروتنه ده. - ژ

30 -Chapchi and Sipi Daras

31- KHAWANICH

32- Kuh -i -Berun

33 -KHAWAT

34 -KHAZAN

35 -Yahyakhel

36 -Malakh

37 -KHAZAN -I -CHINA

38 -Wur

39 -Kamkai Wazakhwa

40 -KHEDRAN

41-KHENKAY

42-KHERANAY

43-KHERI TAISANG



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**خيش**: [44]: (وگورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه) دا د بهسودو د سيمې په شمال ختيځ گوټ کې يوه علاقه ده.

**خيش**: دا د «دولت پای هزاره گانو» [45] يوه څانگه ده. (وگورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

**خيده** : [46]: دا د باميانو د ولسوالي د «ختای هزاره گانو» [47] يوه څانگه ده. (اې. بي. سي)

**خيدر: خضر**: (وگورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه) په دې نوم يو ځای د دايکنډي په سيمه کې هم سته.

**خيدر خانی: خضر خاني**: ـ۳۴، ـ ۷۰ : دا د جلال آباد په ولسوالي کې د «بټي کوټ» [48] د سويل لويديځ په نږدې ۱ مايلۍ کې يو کلی دی. استوگن وگړي: تـيـرايي. (جنکينز)

**خيدر خيل: خضر خيل**: ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د خوگيانيو په علاقه دارۍ کې د گندمک د سويل ختيځ په نږدې ۱۰ مايلۍ کې يو کلی دی. د دې کلي استوگن وگړي د خوگيانيو د خربون له څانگې څخه دي. (جنکينز) په دې نوم يو بل کلی د وازې خوا په شمال کې په ۱۳ – ۳۲، ۲۲ – ۶۸ «ن» کې موقعيت لري. (لودويگ آدمک)

**خيدي: يا: خندي غاښی**: [49]: لوړوالی: نږدې ۱۰۱۰۰ فيټه. دا په هغې غرنۍ لړۍ کې يو کوتل دی چې د خوست په لويديځ کې واقع او دَ «شاميل» [50] د درې له سره د «کوشين» [51] تر دښتې پورې لاره وربانديّ تـېـرېـږي. له دې کوتل څخه هغه عمومي سړک تـېـرېـږي چې له گرديز څخه ۱۶ مايله ليرې له متون څخه تر گرديز پورې او تر کابل يا غزني پورې تللی دی.

د خوست له خوا کوتل باندې د ختلو لاره ډېـره ستوغه ده ؛ په اوسني حال کې به دا لاره د اوښانو د ترانسپورت لپاره ډېـره گرانه وي. د لارې خاوره نرمه ده او ډېـره آسانه به وي چې لاره په کې جوړه سي چې د ختلو د لارې سختي به ئـې آسانه سي. د لارې په دواړو غاړو کې ونې پريمانه دي خو جناحي ډلې په کې آسانه خوځښت کولای سي.

د «کوشين» د دښتې پر لور د کوزېدلو لاره آسانه ده چې د مخ خلاصو مهميزونو له سره او له ځپاندو يا لوړو ژورو ډکو ځايونو څخه کوزېـږي.

د کوتل سر، مخ ـ خلاصی دی، ښي لاس ته غرونه (د خوست له خوا) د لارې له سره لږ پورته تللي دي. په کيڼ لاس کې برعکس غرونه ډېـر لوړ تللي دي چې لوړوالی ئـې له کوتل څخه نږدې ۲۵۰۰ فيټو ته رسېـږي. دا غرنۍ لړۍ ښـه په ونو پوښلي ده چې عمدتاً د جلغوزو ونې دي. په کوتل کې هيڅکله ژوره واوره نـهٔ ده ليدل سوې او ويل سوي چې غلزي اوښان د کال په ټولو اوږدو کې له دې کوتل څخه تـېـرېـږي. (آی. بي. سي)

**خلتي**: [52]: دا د کافرانو يوه قبـيـله ده چې ښاغلی «گردل ستون» [53] ئـې د «ډگروال گاردنر» [54] د ياد داشتونو پر بنسټ يادوي. نوموړی د خاواک او د «دو راه» د کوتلونو تر منځ له هندوکش څخه يادونه کوي او وايي چې د خلتي قبـيله په کې استوگنه ده. نوموړی وايي چې د خلتي د قبـيـلې وگړي غوره بولي چې خپل کورونه د ځنگل په زړهٔ کې د ځای له پاکولو وروسته ودان کړي. د دوی کورونه په ندرت سره دوه پوړيزه دي چې له دباندې خوا څخه پوړۍ يا زينې ورختلي دي. د خلتي د قبـيـلې رب النوع «دوگان» [55] نومېـږي. همدا شان دا قبـيـله «شمالي ستوري» [56] ته زښت ډېـر درناوی لري. (گاردنر)

---

[44]-KHESH
[45]-Daulat Pai Hazaras
[46]-KHIDA
[47]-Khatai Hazaras
[48]-Batikot
[49]-KHIDDI Or KHANDI GHAKHI
[50]-Shamil valley
[51]-Koshin plain
[52]-KHITI
[53]-Girdlestone
[54]-Colonel Gardner
[55]-Dogan
[56]-North Star


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**خنګوټ**: [57]: ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل د چاردهي په درې کې يو کلی دی چې د کوروغ د غرهٔ په ختيځ بيخ کې د «تيبه» [58] د سويل په نېږدې ۲ مايلی کې موقعيت لري. دې کلي کې د احمدزيو غلزيو او د «ادرام زيو» [59] غلزيو شاوخوا ۱۰۰ کورنۍ اوسېږي. (آی. بي. سي)

**خنج**: ۲۶ ـ ۳۵، ۴۴ ـ ۶۹ «ن»: دا د پورتني پنجشير په منځغري کې يو کلی دی چې د پنجشير د سيند د ښي غاړې په اوږدو کې د «مرز» [60] له کلي ۶ مايله پورته واقع او د تاجيکانو ۱۰۰ کورونه په کې ودان دي. د خنج کيني خوا ته د «درهٔ درخنج» [61] خولـهٔ واقع ده چې لږ پورته ئـي يوه لاره کافرستان ته تللې ده. د خنج کلي ته نېږدې د سيند ښي غاړې ته د يوې درې مخه خلاصه سوې ده چې د «جرويش» [62] په نوم يادېږي. د همدې درې په خولې کې د ۱۰ کورونو يو کوچنی ګوټی کلی دی. له هرې درې څخه د اوبو يو بهير راوځي.
يو نيم مايله کوز د «بيرجامن» [63] کلی دی چې د تاجيکانو ۲۰ کورونه په کې دي او د خنج د ملک تر اداري لاندې دي. (شهزاده تيموس)

* **خنج کوټ**: ۵۶ ـ ۳۲، ۲۷ ـ ۶۹ «ن»: دا د پاکستان د سرحد د لويديځ په نېږدې ۳ مايلی کې يو کلی دی چې په «تنګي الګد» [64] کې موقعيت لري.

**خنجوکک**: [65]: ۲۲ ـ ۳۴، ۳۳ ـ ۶۸: دا د سليمان خيل غلزيو په کندواله کلا کې د دمي نيولو ځای دی چې له «پناه» [66] څخه تر «قلعهٔ خروټي» [67] پورې د لارې په اوږدو کې واقع دی. دلته د اوبو يو کاريز هم سته. (براد فوټ)

* **خير کاريز**: ۸ ـ ۳۴، ۵۷ ـ ۶۸ «ن»: دا د لوګر په ولايت کې د «بابوس» [68] د شمال په شاوخوا ۵ مايلی کې يو کلی دی.

* **خير خيل**: ۴۳ ـ ۳۳، ۲۵ ـ ۶۹ «ن»: دا د پکتيا په ولايت کې علي خيلو ته د تللې لارې په اوږدو کې د ګرديز د شمال ختيځ په شاوخوا ۱۵ مايلی کې د توتاخيلو په سيمې کې يو کلی دی.

* **خيرمنه**: [69]: دا د پکتيا په ولايت کې د علي خيلو د سويل لويديځ په شاوخوا ۵ مايلی کې د ځاځيو په سيمې کې يو کلی دی.

**خرس خانه**: [70]: ۲۲ ـ ۳۴، ۳۳ ـ ۶۸ : دا د سرِ چشمې د سويل په نېږدې ۶ مايلی کې په غرونو کې يو کوتل دی. غزني ته «د دای ميرداد له لارې» سړک له همدې کوتل څخه تېرېږي چې د کچرو د تګ لپاره مناسب دی خو د اوښانو د تګ لپاره ګران دی. (آی. بي.سي)

**خرس خانه**: ـ۳۴، ـ ۶۹: لوړوالی: ۶۲۱۰ فيټه. دا يو کوتل دی چې له کابل څخه تر کوهدامن پورې سړک وربادې تېرېږي، دا کوتل له کابل څخه ۱/۲ـ ۶ مايله ليرې دی. کوتل ته د شمال له لورې په رسيدلو سره د کوتل لوړيدل يا ارتفاع دومره تدريجي ده چې د کوتل سر ته رسيدل د توقع خلاف کېږي او څوک وربادې نـهٔ پوهېږي؛ دا لاره د غونډيو په لويديځ کې ده او له منځه ئـي سړک کوزېږي.
کله چې په ۱۹۰۵ز کال کې د «دن د مأموريت» غړو له کوتل څخه ليدنه وکړه، د کوتل سړک ډېر ښه وو او د توپونو د خوځښت لپاره آسانه لاره وو، يوازېنۍ سختي ئـي د يوهٔ مايل په اوږدوالي د کوتل سر کې وه، ځکه دغه برخه نـهٔ وه ترميم سوې او ډبرينه وه. (آی. بي. سي) د خير خانې په نوم يو ځای په ۳۴ ـ ۳۴، ۶ ـ ۶۹ «الف» کې موقعيت لري. (لودويګ آدمک)

---

[57]-KHINGOT
[58]-Teba
[59] -Adramzai Ghilzais
[60]-Marz
[61]-Dara Darkhinj
[62]-Jarwesh
[63]-Birjaman
[64]-Tangi Lgad
[65]-KHINJUKAK
[66]-Panah
[67] -Kala Kharoti
[68]-Babus
[69]-KHIRMANA
[70]-KHIRSKHANA



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**خرس خوار:** ـ ۳۴، ـ ۶۸: دا د کابل د سیند د بر سر یوه ځانګه ده چې د اونۍ د کوتل د ختیځ په نېـږدې ۶ مایلۍ کې له سویل لوري د کابل له سیند سره یو ځای کـېـږي. (ونلیس)

* **خوګۍ:** ۱۳ – ۳۴، ۱۶ – ۷۰ «ن»: دا د ننګرهار په ولایت کې د «آګام» [71] په شمال لویدیځ کې د چپ ریار په سویل لویدیځ کې یو کلی دی.

**خوجه:** وګورئ: خواجه

**خوجک:** دا د غلزیو یوه ځانګه ده چې د غلزیو د سیمې په ختیځ کې ځدرانو ته نېـږدې استوګنه ده. براد فوټ وایي چې دوی عمدتاً د سلیمانخیلو د احمدزیو له ځانګې څخه دي. کله چې برتانوي ځواکونو د کابل پر لور پرمختګ کاوۀ د بنګال د ۳۷ د بومي پلي ځواک «ډګروال هیرینګ» [72] د قاتلینو د یوې ډلې په لاس ووژل سو چې وروسته ئـې مړی په خواجک کې ومونډل سو. له دې سره سم د «تورن اوترام» [73] په مشرۍ یوۀ ځواک د غلزیو په پیاوړي مورچل باندې په زرمتو کې «کالاګو» [74] ته نېـږدې برید وکړ. د اوترام ځواک د پلي ځواک لـۀ واحدونو او د سپارۀ ځواک له نېـږدې ۳۵۰ تنو څخه جوړ وو؛ کله چې اوترام ورسید نو وئـې لیدل چې خوجک د لوڅو ډبرینو غرونو د غرنۍ لړۍ په لمن کې په یوۀ پیاوړي مورچل بدل سوی دی، اوترام یو ناڅاپه برید وکړ، سره له دې چې غلزیو په شجاعت او زړورتیا مقاومت وکړ خو اوترام دوی ته په چټکۍ سره قاطع ماته ورکړه، ډېـر کسان ئـې ورته ووژل او پاتې نور ئـې چې شمـېـر ئـې ۱۲۰ تنو ته رسیدۀ ژوندي ونیول. براد فوټ وایي چې په دې مقاومت کې ان میرمنو هم په جګړې کې برخه اخیستې وه او زموږ پر سرتـېـرو ئـې د کاڼو او ډبرو بارانونه جوړ کړي ول او هم ئـې د زړۀ په مینې خپلو میړونو ته باروت او د باروتو کڅوړې په لاس کې ورکولې. «هف لاک، اوترام،براد فوټ»

**خوجل خیل:** خواجه خیل ؟: [75]: ۳۹ – ۳۳، ۳۸ – ۶۸ «الف»: دا د غزني د شمال ختیځ په نېـږدې ۱۴ مایلۍ کې خروار ته د تللې لار په اوږدو کې یو کلی دی. دلته د سیند په ښۍ غاړه کې چې کلی په کې ودان سوی دی د یوۀ غنډ د کمپ وهلو لپاره ځای سته. (آی. بي. سي)

* **خوله:** [76]: ۱۷ – ۳۴، ۳۴ – ۶۷ «ن»: دا د بامیانو په ولایت کې د سرخاب د لویدیځ په نېـږدې ۶ مایلۍ کې یو کلی دی.

* **خونه** : [77]: ۲۱ – ۳۲، ۱۳ – ۶۸ «ن»: دا د غزني د ولایت په سویل کې د «شینکي غرۀ» [78] په شمال کې او د «ماریف خیلو» [79]: د سویل ختیځ په نېـږدې ۶ مایلۍ کې یو کلی دی.

**خونینده:** [80]: دا د «پولادا هزاره ګانو» [81] یوه ځانګه ده. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

* **خرم:** ۵۲ – ۳۴، ۱۳ – ۶۸ «ن»: دا د غوربند د سیند د یوې ځانګې دغاړې په اوږدو کې د «شمبول» [82] په سیمې کې یو کلی دی.

**خورمي:** [83]: ۲۵ – ۳۳، ۷ – ۷۰ «ن»: دا د پکتیا د ولایت په ختیځ کې د «تـیـري زیو» (الیشیر) [84] د سویل ختیځ په نېـږدې ۳ مایلۍ کې یو کلی دی.

* **خوشامند:** وګورئ: خوشامند

**خوست:** ۲۰ – ۳۳، ۵۵ – ۶۹ : خوست د پکتیا د ولایت یوه ولسوالي ده. دا ولسوالي ۴۲۰ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـې چې بزګرې پرګنې دي د ۲۷۰۴۲ تر ۴۲۶۱۲ تنو تر منځ اټکل سوی دی. دا ولسوالي له لویدیځ

---

71-Agam

72-Colonel Herring, of the 37th Bengal native infantry

73 -Captain Outram

74-Kalagu, in Zurmat

75-KHOJAL KHEL

76-KHOLA

77-KHONA

78 -Shinkai Ghar

79-Marefkhel

80-KHONINDA

81-Polada Hazaras

82-Shumbul

83-KHORAMAI

84 -Terezai (Alisher)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لوري له موسی خيلو، نادر شاه او مندوزيو سره، له سويل لوري له ګوربز سره له ختيځ لوري له «ترې زيو» [85] ، او له سويل ختيځ لوري له پاکستان سره او له شمال لوري له «سروتي» (زمبر) [86] سره کربنه لري. خوست ۱۱۱ کلي لري چې ۲۳ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو څخه ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول ليست کړي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Tani Kalai | تني کلی | Qarya -i- Latak | قريـهٔ لټک | Darash Kalai, (Dash Kalai) | | دَرَش کلی «دش کلی» | |
| Goriyan | ګوريان | Bali | بالي | ايوب خيل | | Karam Saray | کرم سرای |
| Bada Khela | بَډه خيله | Baddi Khel | بَـډي خيل | بختور کلی | | چينه کلی | |
| Sarkai Khel Boli | | سرکي خيل بولي | | Babur (Babar) | بابُر «بَـبَر» | Dolan | دولان |
| قريـهٔ خان «خان کلی لټک» | | Cholan | چولان | Piran Shamal Niyazi | | پيران شمال نيازي | |
| قريـهٔ خليفه | | Qarya -i- Behsus (Behsudi) | | قريـهٔ بهسوس «بهسودي» | | Qarya -i -Khan (Khan Kalai Latak) | |
| قريـهٔ محمد عمر خان «عمر کلی» | | Qarya- i- Gulbad Khan | | قريـهٔ ګل بد خان | | لنډی کلی | |
| Dari Khel -i- Matun | | دري خيل متون | | Wardah Khel | ورداخيل | Kotolai Matun | کوټلی متون |
| قريـهٔ کجيري | | نياز ګل کلی | | Patarah | پټاره | Torah Wari | توره وړی |
| قريـهٔ حبش خيل | | Toryan | توريان | Chaghi (Choghi) | | چاغي «چوغي» | |
| مندوخيل | | Dar Koti | در کوټي | Kot Kai Kalai | | کوټ کی کلی | |
| Shakarah Matun | | ښکاره متون؟ | شکاره متون | Mina | مينه | Wati Kalai | واټي کلی |
| Gharombai | غرومبی | Wargha | ورغه | Koriyan Matun | کوريان متون | Khatakai Kalai | ختکی کلی |
| خضر پيران | | Mardi Khel | مردي خيل | Mashin Latak | مشين لټک | Matta China | متّه چينه |
| مال کونډي «مالو مونډي» | | لنډی متون | | Khalesa -i- Matun | خالصـهٔ متون | Tandi Piran | تندي پيران |
| Negzai | نګ زي | Penzaya - Shamal, | پنځايه شمال | Manai | ماني | Malkondai (Malo Mondi), | |
| Madi Khel | مدي خيل | خان هوس کلی | | رسول محمد کلی | | کرامت خيل | |
| Welgai | ولګي | Kundi | کوندي | Qarya -i- Magass | | قريـهٔ مګاس | |
| قلعـهٔ وزير | | Malizai | مَـلي زي | قلعـهٔ سخي خان | | Ali Shirai | اليشيريه |
| Qarya -i -Tabi (Tabi Lakan) | | قريـهٔ تابي «تابي لکن» | | Mer Mandai | مِر ماندي | نور زي | |
| قلعـهٔ هندوان | | Arnam -i - Hendu | ارنامِ هندو | Bangi Bagh | بنګي باغ | محمد خيل | |
| Matkai ( Patak) | | متکي «پټکي» | | Asar | اسار | Zerai Terkha | زيړی ترخه |
| Ster Mazg hor | | ستر مزغور | | Marzghor- i- Kalan | | مزغورِ کلان | |
| Qarya- i- Wazyan | قريـهٔ وزيان | Khandar | خندر | قريـهٔ قادر خان «قادر منګل» | | Kamkai | کمکی |
| زرغالي لټک | | قريـهٔ کوتل | | Qarya -i- Alidaya | | قريـهٔ الي دايا | |
| قريـهٔ صاحب زاده کوټی | | Kharsin | خرسين | Dandayan | دندايان | Zar Ghali Latak | |
| پرنګي ځدراڼ کلی | | Daru Gheljai Kalai | | دارو غلجی کلی | | امين ګل | |
| مأمور جنت ګل «خان کلی» | | حسين کوټ | | Dirri Gheljai | ديري غلجي | Parangi Zadran Kalai | |
| ګل احمد شاه | | شينکی کلی | | فضل الدين پير کلی | | ملايان پيران | |
| Nukut Khel | نوکوت خيل | قريـهٔ تنګ «تنګ لکڼ» | | ملايانِ لکڼ | | Dayri Piran | ديران پيران |
| Pas Koriyan | | پاس کوريان | | Sahebzadah Segai | | صاحب زاده سيګي | |
| Kamar Sar | کمر سر | شير بازار | | Khodizai | خودي زي | Bar Koriyan | بر کوريان |

[85]-Trayzai

[86]-Saroti (Zambar)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Lakan Tar | لکن تار | Mari Khel | مري خيل | Shah Pol Kalai | شاه پول کلی | Choprai | چوپری |
| Qarya -i -Lanu | قريـۀ لنو | | قريـۀ قدرت | Qalai- Nakam | قلعـۀ ناکام | Khundai Kalai | خوندي کلی |
| Azmati Qala | | عظمتي قلا | | Moqbel | | | مقبل |
| (لودويک آدمک) | | | | | | | |

په ۱۹۱۴ز کال کي خوست په لاندي ډول شرح سوی دی :
د خوست ولسوالي د «شاميل/ شمال» يا د «کيتو» [87] د سيند له پورتنی برخي څخه جوړه سوې ده. دا ولسوالي له شمال، شمال ختيځ او شمال لويديځ لوري له کورم او زرمت سره کرښه لري چي له قومي اړخه په کي توري، ځاځي، منګل، او د ځدرانو يوه څانګه «مخبل» [88] پراتـۀ دي؛ په ختيځ او سويل ختيځ کي ئـي درويش خيل، وزير پراتـۀ دي، په لويديځ کي ئـي د ځدرانو سيمه او په سويل کي ئـي «داوړ» [89] دي. ويل سوي چي خوست ۴۰ مايله اوږدوالی لري او دري سيندونه دي چي خوست خړوبوي؛ په دغو سيندونو کي تر ټولو مهم ئـي د شاميل سيند دي. خوست ډېـر لوی او ستر کلي نـۀ لري د خوست کلي اکثريت ئـي کوچني دي. د متون کلی د خپلو کلاګانو تر څنګ د څه دباندي ۳۰ کوچنيو کليو يوه ټولګه لري. متون معمولاً د افغان حاکم استوګن ځی دی (په ۱۹۰۷ز کال کي) د خوست حاکم، منصور خان نوميدۀ؛ د خوست لوړوالی ۳۹۸۲ فيټه دی او اقليم ئـي د کورم په پرتلې تود دی.
د دري د پورتنی برخي استوګن وګړي د خوستوالو په نوم يادېـږي او په کوزنی برخي کي ئـي وزير استوګن دي؛ وزير او خوستوال تل دي ته چمتو دي چي په خپلو ګاونډيو تورياڼو باندي په ګډه بريدونه وکړي. خوستوال په دغو څانګو ويشل سوي دي:

| | | |
|---|---|---|
| i | اسماعيل خيل | ويل سوي چي ۳۰۰ تنه جنګيالي لري او ځدرانو ته نېـږدي د دري په سر کي اوسي |
| ii | متون | د جنګياليو شمـېـر ئـي ۱۰۰۰ تنه او د «امير د چهاونی» په ګاونډ کي اوسېـږي |
| iii | مندوزي | د جنګياليو شمـېـر : ۱۰۰۰ تنه؛ له اسماعيل خيلو کوز خو ورته نېـږدي اوسېـږي |
| iv | شاميل | د جنګياليو شمـېـر: ۱۰۰۰ تنه: له مندوزيو کوز اوسېـږي |
| v | لکن | د جنګياليو شمـېـر ۱۰۰۰ تنه د «لندر سدک Landar Sadak » په دري کي اوسېـږي، لندر سدک هغه سيند دی چي له شمال لوري د کيتو له سيند سره يو ځای کـېـږي |

نوري څانګي ئـي دا دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | مالي/ مـَـلي | Mali | ۲۰۰۰ |
| ۲ | ترويزي | Tarwizai | ۵۰۰ |
| ۳ | سَبَري | Sabari | ۲۰۰۰ |
| ۴ | باکر خيل/ باقرخيل | Bakir Khel | ۸۰۰ |
| ۵ | تـَـنـي | Tani | ۳۰۰۰ |

خوستوال ځانونه «پټهانان» [90] بولي خو کيدای سي دوی د «بنوڅيو» [91] په څير له ګډ ټبر څخه وي. دوی په دوه وو ډلو يا فراکسيونونو ويشل سوي دی:

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | تور ګوندي | Tor Gundi |
| ۲ | سپين ګوندي | Spin Gundi |

ويل سوي چي د خوست دره په هيڅ ځای کي د کورم په اندازي پراخوالی نـۀ لري؛ خو خوست د کورم په پرتلې پراخه کرهنه لري چي ډېـرې برخه ئـي للمي کرهنه ده او د باران په اوبو پوري تړلې ده؛ کله چي د سيند په اوبو خړوبه سي نو

[87]-Shamil or Kaitu river
[88]-Mukhbil an Jadran tribe
[89]-Dawar
[90]-Pathans
[91]-Bannuchis


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

خاورهٔ ئې ډېره حاصلخيزه ده. دري سيندونه پر خوست له سويل ختيځ لوري ورځي، تر ټولو شمالي سيند ئې «ځاځي الګد» [92] دی چي له «شا بارس» [93] څخه راځي؛ منځنی ئې «لنډو» [94] دی چي د زرمت له کرښي راځي او تر ټولو سويلي ئې د «سادک کيتو/صادق کيتو» [95] په نوم يادېږي چي د کورم سيند ته ورغورځي. د خوست عمده کرنيز محصول وريجي دي. هغه غرونه چي تر خوست راتاو دي په ونو ډک دي او پريمانه چارتراش، سون لرګي ورڅخه ترلاسه کېږي او هم ښې پووندي په کې دي. خوستوال تنباکو، وريجي، غوړي او نيمڅي له ځيل خوست څخه بنو ته د پلورلو لپاره وړي او له هغې خوا له ځان سره مالګه، نيل، اوسپنه، اوتو، څرمنين وسايل او جامې راوړي.
خوستوال ځيله مالګه له وزيرو څخه راوړي، او وزير دا مالګه له «بهادر خيلو» څخه راوړي چي په بشپړ ډول د بهادر خيلو د مالګو د سرچينې په تدارک پوري تړلي دي.
دانالد وايي چي خوست ځيل ماليات په لاندې ډول ورکړي دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| باقر خيل | | ۴۰۰۰ روپۍ | کګدام | Kagdam | ۵۰۰ روپۍ |
| اسماعيل خيل | | ۶۰۰۰ روپۍ | لکن | Lakkan | ۱۰۰۰۰ روپۍ |
| متون | | ۸۰۰۰ روپۍ | لندر | Landar | ۵۰۰ روپۍ |
| سَبَـري | | ۳۰۰۰ روپۍ | سادک/ صادق | Sadik | ۲۰۰۰ روپۍ |
| مندوزي | | ۶۰۰۰ روپۍ | اران خيل | Aran Khel | ۱۰۰۰ روپۍ |
| علي شيري/ اليشري | | ۳۰۰۰ روپۍ | مالي/ مَلي | Malli | ۳۰۰۰ روپۍ |
| سيوکي | Sewaki | ۲۰۰۰ روپۍ | خبست | Khabast | ۴۰۰ روپۍ |
| خدازي | Khudazai | ۵۰۰ روپۍ | ګلباز | Gulbaz | ۱۰۰۰ روپۍ |
| خلسن | Khalsen | ۵۰۰ روپۍ | | | |
| د مالياتي عوايدو ټولټال: ۵۱۴۰۰ کابلی روپۍ | | | = | ۲۹۰۰۰ برتانوی روپۍ | |

دا ولسوالي د ۱۸۷۹ز کال د جنوری په مياشت کي د برتانوي ځواکونو له پلوه اشغال سوه او د همدې مياشتي په اوومي نيټي ئې خوستوالو ته د متون په ګاونډ کي د ډېرو تلفاتو له اړولو وروسته ماتې ورکړه، له برتانوي لوري څخه يوازي دوه تنه ووژل سول او شپږ تنه ټپيان سول. د خوست د مؤقت اشغال پر مهال يوازې هغو قومي مشرانو د برتانويانو پر وړاندي د دوستۍ ليوالتيا ځرګنده کړه چي د سپين ګوند په ډلې پوري ئې اړه درلودله.
تاسو خوست ته د «کورم توچي» [96] د درو له لارې له ځو لارو ننوتلی سئ.
ښاغلي ج. ګ. لوريمر چي په ۱۸۹۸ز کال کي په توچي کي پوليټيکل آفيسر وو د خوست په هکله يو راپور چمتو کړی وو، لاندي د نوموړي راپور لنډيز وړاندي کېږي.
«د حکومتی مرکز چي په متون کي دی د اقليم له اړخه سوړ دی او «ګبر» [97] تو دی. څلور مرستيال حاکمان دي: يو ئې په جاجي ميدان کي، يو ئې د منګلو په سيمي کي، يو ئې په ځدرانو کي او يو ئې د تنيو په سيمي کي دی.»
د دې سيمي په هر ځای کي په کال کي يو ځل يوه روپۍ ماليه راټولېږي، حکومت د اوښانو په پادو او رمو باندي په هرو څلويښتو سرو باندي په کلني ډول ماليه ټاکلي ده. دا ماليه د «چهل يک» [98] په نوم يادېږي. د توتو د ونو په ګڼون د ميوو له ټولو ونو څخه ماليه اخيستل کېږي چي د هرې ونې پر سر يوه شاهي ماليه راځي؛ يوه شاهي د يوې آنې ۴/۳ برخه ده. حکومت د غلاتو او څارويو له پلورلو څخه «کرچ» [99] يا د پلور ماليه هم اخلي خو د ځمکي ماليه نـهٔ اخلي؛ دا په برتانوي هند کي د ثبت د دفتر فيس ته ورته ده او تبادله په ټولنيز ډول هغه مهال ثبت کېږي چي کرچ ورکړل سي.
د هر وادهٔ پر سر حکومت ته ۱۰ تر ۸ روپيو پوري ورکول کېږي. د ځمکو د ماليات محاسباتي واحد د ۶۰ ګام مربع يو جريب «نبـږدې ۵۰ يارده مربع» دی چي تقريباً څه دباندې نيم ايکر مساحت کېږي. ځاځيان، خوستوال، منګل او ځدراڼ د هر جريب پر سر له ۱ تر ۴ روپيو پوري کلني ماليه ورکوي؛ دا ماليه په دوه وو برابرو اقساطو کي ورکول کېږي. د کليو ملکان دا ماليه د مالياتو د ثبت اداري ته راوړي. د شاميل او د متون د سيندونو د شاو خوا سيمو خلک له

92-Jaji Algad
93-Shabaras
94-Landu
95-Sadik Kaitu
96 -Kurram Tochi
97 -Gabar
98 -Chihilyak
99 -Kharch


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيز بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ

۱ – ۸ روپیو پورې مالیات ورکوي. ټني د هر جریب پر ځای د هرې قلبې پر سر ۲ روپۍ مالیه ورکوي او سَبَري چې ځمکې ئې للمي دي د حاصل لسمه برخه جنساً د مالیې په توګه ورکوي. په خوست کې د کښت وړ ډېره لویه برخه د حکومت ملکیت ده چې د «خالصه» [100] په نوم یادېږي؛ دا خالصه ځمکې بزګرو ته د کښت لپاره په اجاره ورکول کېږي. »
« په عدلي چارو کې د ټولو قضایاو په هکله پریکړه یا په خپله حاکم کوي او یا ئې د قضایي پریکړې لپاره د اسلامي شریعت د احکامو پر بنسټ قاضي ته ورلېږي.» داسې شي چې په عدلي چارو کې پریکړه د جرګې له پلوه وسي دلته نه سته. په عدلي چارو کې د خوست حاکم د چا د مرګ او ژوند په هکله د پریکړې صلاحیت نه لري. (کین، دانالد، لوریمر، آی.بي. سي)

**نور بیا**

* **خوست میته:** دا د پکتیا په ولایت کې د «قلندر غر»...

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوهم ټوک، دریم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

100-khalisa


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیز بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ